# د ډاکټر عبدالله جان عابد تدوین متن

(تجزیاتي مطالعه)

# Textual edition of Dr Abdullah Jan an Analytical Study

Dr.Faqir Muhammad *
Dr.Kirn Saneen **

**Abstract:**

Editing of manuscripts is a branch of research but in some aspect different and have own way because it need unique skills. For textual editor special attraction also needed. It have historical importance in literature, having own methodology and principles. The art of textual edition is work of care intelligence because behind the old manuscripts have history, culture, civilization, customs of that time. Also a unique linguistics importance and stylistic study.Dr Abdullah Jan Abid is one of modern textual editor in modern period and have important role in editing of classic manuscripts.

**Key words**: Text editing, style, linguistics approach, knowledge of history .

تدوین متن د تحقیق څانګه ده خو د څېړنې په څۀ حوالو نازک حېثیت او بېل اهمیت هم لري ځکه چې کۀ یو اړخ ته تدوین ځانګړې مهارت غواړي نو دې عمل سره خصوصي مینه او دلچسپي هم ورله ضروري ده۔ هر محقق ښۀ مدون نۀ شي کېدلے۔ دا خو نۀ تفریحي کار دے او نۀ عارضي شوقیه څیز دے۔ تدوین په ازغنو لارو تګ او سرابونو پسې لېواله سر وهلې منډې دي۔

تدوین تاریخي امانت وي نو ډېر تقدس،حکمت،حرمت او عظمت لري۔ مخطوطه او د دې متن د مصنف یا مؤلف امانت وي ۔ هېڅ قسمه د بدلون لاس وهنې او زیاتون عمل پکښې زیاتې او د منصب نه وتل او تېروتل دي۔ د علمي قاعدو ،اصولو قائدو ضابطو په رڼا کښې واضح، قابل فهم صورت کښې،تحریف،تصحیف، کمون،زیاتون، تقدیم،تاخیر،وزن ،سېلاب،املا ،صرف و نحوا او د غلطیو اصلاح کول جائز دي خو دا د

* Lecturer Pakhtunkhwa Study Center Bacha Khan University Charsadda.
** Assistant Professor Pakhtunkhwa Study Center Bacha Khan University Charsadda.

هر چا د وس کار نۀ دے۔ اسلوب او لفظونه بدلول تدوين نۀ دے ځکه چې دا د خپل دور ترجمان وي کۀ د نظرئې يا واقعې غلطي مخې ته راشي نو په حاشيه کښې وضاحت پکار دے۔ د تدوين صلاحيت او هنر د تحقيق او تنقيد سره تړون لري خو په څۀ خصوصيتونو ترې بېلتون هم لري چې د يو ځانګړي اړخ تقاضه کوي[1] ۔ دا د ډېر احتياط،صبر،تحمّل،علمي ديانت ،ذهانت، صلاحيت او بې کچه مېنې کار په دې هم دے چې قديمي مخطوطې د خپلو مشرانو،اتلانو او د علم د خاوندانو علمي،ادبي سرمايه او د انساني کلتور،روايت،تهذيب،تاريخ او تمدن سرچينه وي[2]۔ چې د راتلونکي علمي بهير د پاره د سفير او وارث حېثيت لري۔ په دې وجه د مخطوطې نظر او نظريه داسې څرګندول دي څنګه چې منصف په خپله ښکاره کړې وي۔

په داسې اصولو چې د مطالعې، لوستلو او پوهې قابل هم شي او مقرر،اصل او موجود شکل کښې هم پاتے شي۔ د تدوين تقاضه ده چې د مخطوطې عنوان د مؤلف نوم د اصل مصنف يا مؤلف طرف ته نسبت،عبارت کښې راغلي ټول مواد ،د اول نه تر اخري لفظ پورې د تحقيق، تصديق او ضبط سره د مصنف د وضع او شکل مطابق مرتب او ترتيب شي[3]۔

کۀ داسې ونۀ شي او د قاعدو او طريقو خيال مجروح شي نو متن کښې د تغير،سرقې او الحاق ويره پېدا کېږي۔ بل کۀ چرې د اصل متن لغتونه،ترکيبونه وژباړلې شي يا ئې مترادف لفظونه راوړې شي دا د متن خېړنې او مصنف د منشاء خلاف کار دے[4]۔ کۀ مونږ غور وکړو نو ډېر کم داسې عالمان پوهان دي چې څېړونکي هم دي او مدون هم وي ۔د تدوين ضرورت او اهميت نه خبر وي۔ د تدوين د پاره دا د فکر مقام دے چې سرکاري يا نيم سرکاري ادارې د خپلې خوښې د تدوين د اصولو او صلاحيت پوهه نۀ لرونکو ته دا کار حواله کړي۔ د مخطوطې تدوين ډير مشکل عمل دے ۔ د يو متن ښکاره کول نۀ وي د مصنف اصل انداز ،افکار،اسلوب او هغۀ عصر ته رسېدل وي او قابل اعتبار نسخه جوړول وي۔ په تيارو کښې ورکې مخطوطې سمون،د مقام تعين د ادب په تاريخ ډېر اهميت لري۔د دې سمونه د ذهن باقاعده او هنري مشق غواړي۔

ډاکټر عبدالله جان عابد د مدون د پاره اوله مرحله د يو متن د نسخو،منابعو نورو متعلقه موادو لټون او حصول ضروري ګڼي ۔دوېمه مرحله د متن د تهيې او تصحيح ښائي

چې په انتقادي،التفاطي او قياسي طريقه کېږي۔ دغسې د متن تحقيق، تنقيد ،حاشيې او فرهنګ ليکل دي۔[5]

ډاکټر صيب د تدوين اساسي مقصد او مدعا د مصنف منشاء راوړل او ورسره مقدمه، حاشيې،نوټونه، تعليمات فرهنګ او اشاريې ليکل ګڼي[6]۔

د متن څېړنې د پاره د مدون په معروضي مطالعه (Objective Study) متني معارض او مواقف پوهه ضروري ده ۔ دغسې د موضوعي مطالعې(Objective Study) يعنې متني معارض،مصادر او محاسن هم پېژني۔د دې سره سره به دا خصوصيتونه هم لري چې د زړو مخطوطو ژور علم او مطالعه به لري ۔ د متن څېړنې سر به دلچسپي لري ۔ صبر،تحمل،علمي ديانت،تنظيم،ترتيب،صلاحيت،ذهانت،بصيرت،بصارت،حاضر دماغي، غېر جانبداري، دليل منونکے، د علم پوهې خاوند ، د نسخې قدر لرونکے، د قديم او جديد طرز تحرير او اسلوب واقفيت،د هغه دورِ تاريخ او ژبني خصوصياتو خبر د شعر علم، وزن بحر،بديع، بيان،تحقيقي او تنقيدي شعور، د معاصر ادب ادراک، د مخطوطې د دور تهذيب تمدن، زمان، مکان او معاصر ادب او تاريخ نه خبر۔

اوس کۀ دغه خصوصيات مونږ د پروفېسر ډاکټر عبدالله جان کنبې ګورو نو د تدوين د زړۀ چاودي عمل ،وسيع نظر او ژورې مطالعې په تول پوره او ببخي برابر دے او د هغه نه به زيات په دې علم او هنر څوک خبر وي چې دوي په پښتو کنبې د تدوين په روايت د پي ايچ ډي سندي کار ترسره کړے دے۔ د زړو متنونو مطالعه ئې کړې ده۔ زاړه چاپې متون ئې لوستي،د تحقيقي او تنقيدي نظره تېر کړي دي۔ خپل علمي خيال ئې پرې څرګند کړے دے او تر اوسه چې څومره تدويني عمل شوے هغه ئې مطالعه کړے او تجزيه کړے دے۔

د مخطوطو د لټون او پلټنې بې شانه شوق او ذوق لري او چرته چې څوک درک ورکوي ځان ورسوي او صرف تر ځانه ئې محدود نۀ ساتي ۔دغه ناوياته او عظيمه سرمايه د پېژندګلو سره د پښتو لمن او مئين ته سپاري هم لکه د جولائي دسمبر۲۰۱۲ء پښتو مجله کنبې د ريال سنګهـ ټرسټ لائبرېرۍ لاهور پښتو قلمي نسخې داسې بيانوي:

"په دې زړه او تاريخي لائبرېرۍ کښې د نورو ژبو سره د پښتو ژبې ديارلس خطي نسخو تعارف وړاندې کولے شي او پرې به د موضوع په ارتباط نور تفصيل او ضروري نکتې په تعليقاتو کښې بيانولے شي"[7]

دغسې د خيرالبيان د چاپي متونو تنقيدي جاج ئې پښتو تحقيقي مجله۲۰۱۷ء کښې د متن څېړنې د اصولو په رڼا کښې اخستے دے۔ د تاريخ مرصع چاپي متون : تنقيدي مطالعه ئې هم د دې اصولو په رڼا کښې پښتو جولائي دسمبر۲۰۱۹ء کښې کړې ده۔ د رحمان بابا کليات ئې هم په دغه اصولو څېړلے دي۔

د مخدومه امير جان د کتاب خانې پښتو قلمي نسخې ئې هم څېړلې دي کومه چې ګوجر خان کښې موجوده ده۔ شپږ سوه نسخې د مختلفو ژبو لري۔ په دې کښې د پښتو هم شپږ قلمي نسخې دي چې عابد صيب ئې بنيادي کوائف، خصوصيت، موضوع او تاريخي تفصيل بيان کړے دے[8]۔

دا د ډاکټر عبدالله جان د تدوين متن يو خصوصيت د قلمي نسخو سره د مينې او مطالعې ثبوت وۀ چې ګڼې مخطوطې ئې د نظره تېرې شوي او تجزيه کړې ئې دي۔

بل خصوصيت د تدويني عمل سره د دلچسپۍ دا دے چې په خپله ئې هم د تدوين کار او زيار کړے او د دغه پوهه ئې د تدوين په سمون کښې په نظر راځي او د دې ځانګړې صلاحيت انځورګري کوي۔

په لړ عمر کښې ئې د حبيب الله رفيع، "روښاني ليکنې" چاپ کړو۔ د ملک شېر علي خان د کلام انتخاب "لپې اوښکې" ئې تدوين کړو۔ بل اهم کتاب "بهرام او ګل اندامه " ئې د تدوين او تحقيق نه تېر کړو۔ د دې کتاب اهميت دا دے چې دا تاريخي داستان پښتو کښې د فياض نه پس دوېم زرداد جنډه خېل منظوم کړے دے۔ چې په ديارلسمه صدۍ هجرۍ کښې ئې ليکلے دے۔

عابد صيب ليکي:

" زردار جنډه خيل د فياض نه پس د دغه قيصې دوېم ناظم دے چې دغه قيصه ئې د يو کړېزې او دوه کړيزې بدلې په هيئت دولس څپيز بحر کښې ليکلې ده۔ کوم چې د قصو او داستانونو د پاره موزون بحر ګڼلے شي"[9]۔

بل اهم تدوین ئې د حضرت شاه بابا دیوان دے۔ دا د یوې نسخې نه نقل شوې چې ناقص اول او اخر تفهم دے۔ د دې نه علاوه وېنو او اوبو خرابه کړې هم ده لړه سوزېدلے هم ښکاري ۔ د پاڼو څه حصې شلېدلې هم دي۔ مدون به مخطوطه شناس او د هغه دور تاریخ نه خبر وي۔ پښتو کښې چې کومو مدونینو کار کړے په هغو کښې په ځینو حوالو ډاکټر عبدالله جان عابد منفرد حېثیت لري۔ دوي د جدید تدوین د اصولو مطابق خپل کار وړاندې کړے دے۔ کۀ مونږ د مخطوطې پېژنګلو او د هغه عصر تاریخي منظرنامه نظر کښې لرو نو په دې اړه د هغوي حېثیت ډېر مسلم دے۔ د حضرت شاه بابا د قلمي نسخې بازیافت د هغې مکمله پېژنګلو ئې کړې ده ۔ د هغې د کاغذ چې هغوي د متن کچ مېچ د کرښو شمېر ،سیاهي، رسم الخط او د مخونو شمېر عرض متني معارض ئې پوره بیان کړي دي۔

د مختلفو منابعو د سندونو په حواله حضرت شاه د پېدائش،د هغۀ د پیر او تصوّفي سلسلې وضاحت ئې کړے دے۔ روایت دا وۀ چې د حضرت جي بابا مرید وۀ ۔عابد صېب په خپله مقدمه کښې د داخلي او خارجي شهادتونو په سندي بنیاد دا ثابته کړه چې حضرت شاه بابا د حضرت جي بابا نه د اخون محمدصدیق مرید وو بل دا چې د حضرت جي بابا سره ئې ملاقات هم نۀ وۀ شوې۔ د حضرت جي بابا د وفات کال ۱۱۳۱ هجري دے او د بابا پېدائش د یوې اندازې مطابق عابد صېب خپله مقدمه کښې ۱۱۴۲ هجري ښودلے دے ۔ غلام فرید "اخوال العارفین" کښې ۱۱۷۴ هجري یاد کړے دے۔ عرض دا چې د حضرت شاه بابا د حضرت جي بابا د مرګ نه ډېر وروستو پېدا شوے دے نو د ملاقات یا مریدۍ خبره ئې د تاریخي حقیقت لۀ مخه سمه نۀ ده او دا د عابد صیب تاریخي،تنقیدي او تحقیقي پوهه او بصیرت دے چې د حضرت جي بابا د خاندان د روایتونو د تسلسل په بهیر کښې تللے نۀ دے او په سند او دلیل ئې د تاریخي حقیقتونو په رنا کښې خپل دلیل ښکاره کړے دے۔

د دې خبرې دلیل د میا وکیل شاه فقیر خیل دا وېنا هم ده چې هغه وائي ماته عابد صېب د حضرت شاه د قلمي نسخې خبره وکړه نو زما خیال دا دے چې ما سره درې قلمي نسخې د حضرت شاه شته او هغه هم د دۀ وي خو کله چې ډاکټر عبدالله جان عابد د قلمي نسخې د شاعر په حقله لټون وکړو نو ثابته شوه چې دا بل حضرت شاه دے[10].

د دې نه علاوه د دې متن باره ،د شاعر او د هغه د خاندان کور کلي او دور باره کښې مستند تاریخي معلومات وړاندې کړل ۔ او ناسم روایتونه او تضادات ئې په شهادت او دلیل سم کړل ۔

**د شاعرۍ د فن اشنائي:**

د مدون د پاره بل اهم حصوصیت د شعري علمونو ،عروجو،سپلابونو او ردیف قافیې پوهه ضروري ده ۔ حصوصاً د منظومې مخطوطې د دغه پوهه لازمي دي او بیا چې مدون شاعر هم وي نو دا تدوین بیا هم نور هم ښۀ کولے شي ۔ ځکه چې د کله کله د شعر مصرو کښې د کاتب خطا او غلطي هم وي .د لفظ کمې زیاتې هم وي چې د شعر اصلیت ته نقصان رسوي ۔ بې وزنه شي او ټول خوند رنګ ئې خراب شي ۔ کله نسخې ته زیان رسېدلے وي او یو خرابه کړې وي ۔ سوزېدلے وي یا شلېدلے وي ۔ نو په داسې حال کښې د مصرعې سمون مناسب لفظ لټول او د وزن بحر مطابق کول ئې ضروري وي نو کۀ مدون شاعر وي او دګه علم لري نو د لفظ انتخاب کمې زیاتې ئې مناسب دي ۔

ډاکټر عبدالله جان عابد ښۀ شاعر هم دے او شاعرۍ فن او هنر سره بلد هم دے ۔دا هنر ئې د حضرت شاه دیوان کښې ډیر لیدلے شي ځکه د دې نسخې کاتب هم خوش خط نۀ دے ځاے په ځاے د وزن بحر مسئله هم د ځنې حرفونو د کمې زیاتې په وجه هم لري ۔ځنې مصرې او لفظونه د اوبو په وجه خراب شوې او لوستلے نۀ شي ۔ دغسې د ځنو پاڼو څۀ حصې هم شلېدلے وي نو د دې مفرو قیاسي ډکون او سمون ډېر د احتیاط کار دے او بې د شاعرۍ د صلاحیت نه ممکن نۀ دے ۔ ډاکټر صیب ډېرو ځایونو کښې دغه تصحیح کړے دے او د هغې وضاحت ئې هم په صداقت کړے دے ۔د تدون،اصولو مطابق ئې د مروج علامتونو په طریقه خپل کار سر ته رسولے دے ۔

دې سره د صنفونو د هیئت او موضوع پوهه هم اهمیت لري چې ډاکټر صیب په دغه اصولو پوره دے ۔ د شاعر د فکر او پیکر د خیال او هنر کلام او بیان په هر اړخ عبور لري چې حضرت شاه د کلام فني او فکري جائزه ئې ګواهي کوي ۔

**اسلوب پېژندنه:**

ډاکټر عبدالله جان عابد د لرغوني او کلاسيکي ادب نه خبر دے. د کلاسيک تر جديد ادب متنونه ئې لوستلې او تنقيدي او تحقيقي نظره ئې تېر کړي دي. د هر مکتب د اسلوب او انداز نه واقف دے. دغه وجه ده چې "د حضرت شاه ديوان" د تدوين په وخت چې ئې د هغه فکر او فن ژوره مطالعه کړې ده نو دې نتېجې ت رسېدلے دے چې حضرت شاه بابا د رحمان بابا د مکتب کلک غړے دے او دا ئې په کوټلي دليلونو او شهادتونو څرګنده کړې ده.

**د ژبې او املا پوهه:**

د تدوين د پاره دا هم ضروري ده چې مدون دے قديم او جديد دور د ژبه، املا، ترکيبونو، محاوره او نور ژبني رموزو نه خبر وي. د کوم دور مخطوطه چې تدوين کوي د هغه دور د املا، رسم الخط د هغه دور د روزمره استعمال لفظونو، اسلوب نه خبر وي. په موجوده دور کښې د هغه دور متروک لفظونه پېژني. دغه پېژندګلو اهميت ځکه لري چې د دې په وجه به د مصنف د شعر د معنې او مفهوم نه خبرېږي او هغۀ له جائز مقام ورکولے شي.

ډاکټر عبدالله جان عابد صېب په دغه هنر پوهه دے. د هغه دور په املا او رسم الخط او د جديد دور د دغه حصوصيتونو نه ښه خبر دے. متني محاسن په متن کښې د املا ژبې تلفظ او نور لساني اړخونه ښکاره کوي د لفظونو او ترکيبونو استعمال په ګوته کوي[11]. په متني محاسنو کښې د ضرورت لۀ مخه د ترکيبونو، لفظونو او جملو په جوړښت او ترتيب تنقيدي اشارې هم کېدلې شي[12]. د حضرت شاه بابا د ديوان د مخطوطې نه دا اندازه لګي چې د دۀ املا د اخون درويزه بابا املا ده. څ، ضيم او ځ دواړه د پاره يو رنګ استعمالوي. د ک او ګ فرق هم نۀ کوي. د ګ د پاره هم ک استعمالوي. د ياګانو استعمال ئې په يو رنګ نۀ دے. تانيثي ۍ او مجهوله ئې کله کله يو شان ليکي. معروفه او مخصوصه ئې کښې فرق نۀ کوي.

**د تاریخ ګوئۍ هنر:**

ډاکټر عبدالله جان عابد د تاریخ ګوئۍ د فن نه هم خبر دے او دا هم د شعري دیوان د تدوین د پاره اهم حصوصیت دے ـ د حضرت شاه بابا دیوان د یو شعر نه د تاریخي صنعت په بنیاد د هغوي د عمر اندازه لګوي۔

یو سطر د یوۀ صرف پکښې محال شۀ
پوره شوې دے دیوان زما د عمر

"دیوان" نه د ابجد په حساب ۷۱ جوړیږي او د دې دیوان د دۀ په ژوند کښې ۱۲۱۳ هجري کښې کتابت شوے دے نو د دۀ پېدائش ۱۱۴۲ هجري دے۔

زما ذاتي خیال دے چې یو شعر کښې "دیوان" ابجدي تاریخ ته اشاره نۀ کوي خو د ډاکټر د رسا فکري او تنقیدي شعور نمونه دلته هم حېرانونکے په دې وجه ده چې ځان ئې بیا هم بچ او محتاط ساتلے دے او وائي چې یوه محتاطه اندازه ده ځکه چې مونږ نۀ شو وئیل چې بابا دا شعر د کتابت نه څومره وړاندې وئیلے دے او دا چې دوي نه وروستو څومره ژوندے وۀ او دا فېصله ئې د مستندو شهادتونو بازیافت ته پرېښې ده۔

**د مقدّمه نګارۍ هنر:**

ډاکټر عبدالله جان عابد د تدوین په مرحلو کښې مقدّمه، فرهنګ او خاشیه او ضمیمه هم اهم ګڼي۔ په دې پوهه د حضرت شاه بابا د دیوان مقدّمه کښې ښکاري ده ـ هغوي د تدوین د اصولو مطابق مقدّمه لیکلې ده۔ دا ئې په اووۀ برخو ویشلې ده۔ ۱ د موضوع باره کښې د څېړنې کار۔ ۲ د حضرت شاه بابا ژوند معلومات۔ ۳ بحث او تحلیل۔ ۴ د شاعرۍ موضوعاتي او فکري جاج۔ ۵ اسلوب او مکتب۔ ۶ د دیوان موجوعي او معروضي مطالعه۔ ۷ د مخطوطې او څېړنې طریقه ، دے۔

# حواله جات

[1]رشید حسن خان، ادبي، ادبي تحقیق،مسائل اور تجزیه،لکهنو ترپرویش اردو اکادمي، ۱۹۹۰ء، ص ۱۲۱

[2]ډاکټر محمد اشرف کمال،تحقیق اور تدوین متن،لاهور ستي بک فوائنټ،۲۰۱۷ء، ص ۱۵۱

[3]خالقداد ملک،پروفېسر،تحقیق و تدوین کا طریقه کار،لاهور،اورینټل بکس۲۰۱۲ء، ص۱۶۴

[4]ډاکټر عبدالله جان عابد ،پښتو کښې د تدوین متن روایت، پښتو ، جولائي-دسمبر ۲۰۱۳ء،مخ ۳۰

[5]عابد ،عبدالله جان،د رحمان بابا کلیات د متن څېړنې د اصولو په رڼا کښې،پښتو،جولائي دسمبر۲۰۱۴ء ،مخ۳۷

[6]ډاکټر عبدالله جان عابد،د تاریخ مرصع چاپي متون،تنقیدي مطالعه، پښتو،جولائي دسمبر۲۰۱۰ء ،مخ۱۵

[7]ډاکټر عبدالله جان عابد ، د دیال سنګهه ټرسټ لائبرېرۍ لاهور پښتو قلمي نسخې،مشموله پښتو،جولائي-دسمبر۲۰۱۲ء، مخ ۱۸

[8]عابد ،عبدالله جان، د مخدومه امیر جان د کتاب خانې پښتو قلمي نسخې،مشموله پښتو،پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي،جولائي ستمبر ۲۰۱۰ء ،مخ۸

[9]ډاکټر عبدالله جان عابد ، د بهرام شهزاده د قصې تحریري مطالعه،"پښتو" ، جولائي-دسمبر۲۰۱۳ء، مخ ۶۱

[10]میا وکیل شاه،فقیر خېل،زېرې،مشموله،د حضرت شاه دیوان،مدونه ډاکټر عبدالله جان عابد ،؟؟؟ ادب کور، ۲۳-۲۲، مخ۲۰

[11]فقیر، فقیر محمد ، د قاسم علي خان افریدي دیوان تدوین او تحقیق، ایم فل مقاله،اسلام آباد،د پاکستاني ژبو شعبه، علامه اقبال اوپن یونیورسټي، ۲۰۱۲ء، مخ۸۰

[12]تنویر احمد،علوی،ڈاکٹر،اصول تحقیق وترتیب متن،سنگت پبلیکیشن پبلشرز،لاہور۲۰۰۳ء،ص۶۰

**Refrences**

1. Rasheed Hassan Khan, Adabi Tehqeeq, masael awar tajzia, Laknawoo, Uther pardesh Urdu academy, 1991, P-121.
2. Dr. Muhammad Ashraf Kamal, Tehqeeq awar tadween matan, Lahore, City book Point, 2017, P-151.
3. Khalqdad Malik, Prof, Tehqeeq wa tadween ka tareeqa-e-kar, Lahore oriental books, 2012, P-164.
4. Dr. Abdullah Jan abid, Pakhto ke da tadweene matan rewayat, pukhto, July-Dec 2013, P-30.
5. Abid, Abdullah Jan, Da Rahman baba kulyat da matan serane da usolo pa rana ke, Pukhto, July-Dec 2014, P-37.
6. Dr. Abdullah Jan abid, Da tareekhe morassa, chapee matoon, tanqidee motalea, Pukhto, July-Dec 2010, P-15.
7. Dr. Abdullah Jan abid, Da Deyal sing library Lahore Pukhto qalami nuskhe, Mashmoola, Pukhto, July-Dec 2012, P-18.
8. Abid, Abdullah Jan, Da Mahdooma Amir Jan Da kitab khane Pukhto qalami nuskhe, Pukhto academy Pekhawar University, July-Dec, P-8.
9. Dr. Abdullah Jan abid, Da Behram Shehzada da qeese tahqeeqi motalea, Pukhto, July-Dec 2013, P-61.
10. Mia Wakeel Shah Faqir khel, zere, mashmoola, da Hazrat Shah deewan, 2023, P-20.
11. Faqir, Faqir Muhammad, Da Qasim Ali khan Afridi deewan, Tadween wa tahqeeq, M.Phil. Maqala Da Pakistani Jabo Shoghba, AIOU, 2012, P-80.
12. Tanveer Ahmad, Ulvee, Dr, Usool e tehqeeq wa tarteeb e matan, Lahore, sangat publication, 2023, P-60.